# ابادي
پنځلس ورځنۍ

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت پنځلس ورځنۍ

ګڼه: ۰۹ | مسلسل نمبر: ۱۴۷


چهارشنبه، محرم الحرام ۲۹، ۱۴۴۸هـ. ق کال




## سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۱۸مه نېټه د پروان ولایت په جبل السراج ولسوالۍ کې د جبل السراج سیمنټو دویمې لویې تولیدي فابریکې د جوړېدو چارو پرانیسته وکړه. سیمنټ د عصري ودانیو او زېربناوو په جوړښـــت کې ډېر مهم رول لوبوي. سیمنټ په نړیواله او ملي کچه د صنعت په پراختیا او خلکو ته د کاري فرصتونو ایجادولو کې مهم رول لري. افغانســـتان چې د لســـیزو اشغال له امله ویجاړ شوی، ډېری زېربناوې یې ویجاړې شـــوې او اوس یې د رغولو له پاره سیمنټو ته اړتیا لیدل کیږي. د افغانستان د ســـیمنټو کلنۍ اړتیا شاوخوا اووه میلیونه ټنو ته رسېږي. افغانستان کې د همدې اشغال له امله د نورو برخو تر څنګ د سمینټو صنعت هم کافي وده نه ده کړې او د افغانســـتان تر ځمکې لاندې د سیمنټو معدني مواد تر ځمکې لاندې پاتې شـــوي. همدا لامل و چې افغانســـتان تر اوســـه د ســـیمنټو په برخـــه کې یو واردوونکی هېواد پاتې دی. د افغانستان اسلامي امارت د نورو صنعتونو په خوا کې د ســـیمنټو په برخه کې د اړتیاوو پوره کولو په موخه د افغانستان د سیمنټو صنعت پراختیا ته مخه کړه. تر دې مهاله د غوري او د جبل السراج سیمنټو فابریکې فعالې شـــوې او د کندهـــار او هرات ولایتونو د سیمنټو تولیدي فابریکو د جوړولو چارې روانې دي چې په نېږدې راتلونکي کې به ګټې اخیســـتنې ته وسپارل شي. دغه راز د یتیم تاق د سیمنټو فابریکې د جوړولو قرارداد له یوه ترکي شرکت سره شـــوی، د لوګر د التمور د سیمنټو تولیدي فابریکې قرارداد بیا له یو چینایي شرکت سره لاسلیک شو. یاد شرکت به د لوګر د دغې سیمې د سیمنټو په اکتشاف او استخراج شاوخوا ۱۴۵ میلیون ډالر پانګونه کوي. دغه قرارداد د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال په حضور کې د کانونـــو او پټرولیم وزیر او د یاد چینایي - افغـــان شرکت د مســـوولینو تر منځ د ۳۰ کلونـــو له پاره لاسلیک شـــو. اوس دا دی د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د سرطان میاشـــتې په ۱۸مه نېټه د پروان ولایت په جبل السراج ولسوالۍ کې د جبل السراج سیمنټو دویمې لویې تولیدي فابریکې د جوړېدو چارو پرانیســـته وکړه. د جبل السراج سیمنټو دویمه تولیدي فابریکه به په ورځني ډول پنځه زره ټنه سیمنټ تولید کړي. د یادې فابریکې د پرانستې پرمهال د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خپلو خبرو کې دغه فابریکه د افغانستان د صنعتي ودې، اقتصادي خپلواکۍ او د کورني تولید د پیاوړتیا په برخه کې مهمه وبلله او ویې ویل، د صنعتي بنسټونو پیاوړتیا د بې کارۍ په کمولـــو او د صادراتو په زیاتوالي کې مهم رول لري. له دې څخه دا څرګنده شـــوه چې اسلامي امارت د صنعت سکټور په ځانګړي ډول د سیمنټو د تولید صنعت ته زیاته پاملرنه کړې ده. هڅه یې داده چې د هېواد نړېدلې زېربناوې پر خپلو تولید شویو سیمنټو ورغوي او هم له دې لارې هېواد ته د سیمنټو واردات کم او میلیونونه ډالر سپما کړي. د دې صنعـــت په غوړېدو به نه یوازې موږ د خپلې اړتیا وړ ســـیمنټ تولید کړو، بلکې له دې لارې به زرګونو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره او د وخت په تېرېدو به خپل تولید شوي سیمنټ نورو هېوادونو ته هم صادر کړو.

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ایران له ولسمشر سره وکتل


۲ صفحه

## د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختیایي پلان منظور شو


۲مه صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو له عالي کمېشنر سره ولیدل


۳مه صفحه

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ايران له ولسمشر سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمريز کال د چنګاښ مياشتې په ۱۲مه نېټه د ايران له ولسمشر ښاغلي مسعود پزشکيان سره وکتل. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له ښاغلي پزشکيان سره ليدنه کې د ايران حکومت او ولس سره د ايران د ستر مذهبي مشر ايت الله



علي خامنه يي د شهادت د تسليت ويلو ترڅنګ پر دوه اړخيزو اړيکو خبرې وکړې. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د افغانستان او ايران ترمنځ ګڼو برخو کې د مشترکاتو يادونه وکړه او زياته يې کړه چې دواړه هېوادونه څرګندې ګډې ګټې لري.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، چې پر ايران د امريکا او اسراييلو د يرغل په اړه د افغانستان اسلامي امارت دريځ روښانه او ثابت و او دغه يرغل يې نامشروع بللی او غندلی و.

ښاغلي پزشکيان په خپلو خبرو کې د دواړو ولسونو پر نږدې او دوستانه اړيکو ټينګار وکړ او زياته يې کړه چې دواړه هېوادونه دې ټول شته فرصتونه د دواړو ولسونو په ګټه وکاروي.

ښاغلي پزشکيان افغانستان سره د اړيکو پراختيا د خپل حکومت له لومړيتوبونو څخه وبلله او ټينګار يې وکړ چې دواړه حکومتونه دې له ټولو ظرفيتونو څخه ګټه پورته کړي.

## د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختيايي پلان منظور شو

د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختيايي پلان، چې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون له لورې تاييد شوی و، د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه‌الله تعالی له لورې منظور شو. په دې پلان کې له کورنيو سرچينو لکه اوبو، لمر، باد او ډبرو سکرو څخه د برېښنا توليد ۲۵ پروژې، د برېښنا لېږد مزي غځولو ۱۳ نيمګړې او ۲۳ پلان شوې پروژې، د سبسټېشنونو جوړولو ۲۱ نيمګړې او ۲۱ پلان شوې پروژې او د برېښنا توزيع ۳۴ پلان شوې پروژې په پام کې نيول شوې دي. د دغو پروژو د چارو په بشپړېدو سره به د انرژۍ په سکتور کې د پام وړ پراختيا او پرمختګ رامنځته او پر وارداتي برېښنا به اتکا راکمه شي.

د دغه پلان تطبيق به د هېواد په اقتصادي بيارغونه او مالي خپلواکۍ په پياوړتيا کې د انرژۍ سکتور رول لا مؤثر کړي، څو د ځان بسياينې او د انرژۍ د خونديتوب پر بنسټ ټاکل شوې اهداف ترلاسه شي.



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو له عالي کمېشنر سره وليدل

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمريز کال د سرطان مياشتې په ۱۷ مه نېټه په خپـل کاري دفتر کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو له عالي کمېشنر ښاغلي برهام صالح سره



وليـدل. د دې ليدنې پرمهال د افغان کډوالو پر وضعيت، له راستنېدونکو کډوالو سره پر بشري او پراختيايي مرستو او له عامـو افغانانو سره د راتلونکو همکاريو په اړه خبرې وشوې. د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرســتيال له ملګرو ملتونو او نړيوالو بنســټونو مننه وکړه، چې له افغان کډوالو سره يې بشري مرســتې کړې دي. محترم ملا عبدالغني بـرادر اخوند ټينګار وکـړ چې ملګري ملتونـه او نړيوال بنســټونه دې خپلې مرســتې پراختيايي برخو ته ځانګړې کړي، څو راســتنېدونکو کډوالو او په کـور دننه بې ځايه شـويو افغانانو ته د سرپناه، ښوونځيو، برېښنا، پاکو اوبو، کارموندنې او نورو برخو کې اسانتياوې رامنځته شي.
ښـاغلي برهام صالح په پراختيايي برخو کې د افغانستان اسلامي امارت د ترسره شويو هڅو ستاينه وکړه او ډاډ يې څرګند کړ، چې دوی به پوره هڅه وکړي څو د افغانستان لپاره د نړيوالې ټولنې لا زياتې مرســتې راجلب او افغانانو ته د ژوند اسانتياوې رامنځته کړي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د جبل السراج سيمنټو دويمې توليدي فابريکې د جوړېدو چارو پرانيسته وکړه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمريز کال د سرطان مياشــتې په ۱۸مه نېټــه د پروان ولايت په جبل السراج ولســوالۍ کې د جبل السراج سيمنټو دويمې لويې توليدي فابريکې د جوړېدو چارو پرانيســته وکړه. د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال دغه فابريکه د افغانستان د صنعتي ودې، اقتصادي خپلواکۍ او د کورني توليد د پياوړتيا په برخه کې مهمه وبلله او ويې ويل، د صنعتي بنسټونو پياوړتيا د بې‌کارۍ په کمولو او د صادراتو په زياتوالي کې مهـم رول لري. محترم ملا صاحب وويل، افغانستان د طبعي زېرمو او بشري قوې په لرلو سره د صنعتي پرمختګ لپاره پراخ امکانات لري او اسـلامي امارت هڅه کوي چې هېواد له وارداتي اقتصاد څخه توليدي او صادراتي اقتصاد ته بدل کړي. د رياســت الوزراء اقتصادي مرستيال سيمنټ په هېواد کې د زېربنايي پروژو د رغونې او تطبيق لپاره




مهم مـواد وبلل او زياته يې کړه، په کـور دننه د دې اړينو سـاختماني توکو په توليد سره د وارداتـو اړتيا کمېږي، له هېواده د اسعارو د وتلو مخنيوی کېږي او په ورته وخت کې زرګونو هېوادوالو تــه کاري فرصتونه هم رامنځته کېږي. د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال له ټولو پانګوالو وغوښتل چې په افغانســتان کې په بېلابېلو ســکتورونو کې پانګونه وکړي. د محترم ملا صاحب په خبره، اوسمهال په هېواد کې امنيت ټينګ شـوی، د فساد کچه په بې ساري ډول راټيټه شوې، اداري چارې اسانه شوي او د پانګونې لپاره مناسب او ډاډمن چاپېريال رامنځته شـوی دی. محترم ملا صاحب د هېواد د اقتصادي ودې لپاره د طبيعي منابعو پر سم مديريت او د حکومت ترڅنګ د خصوصي ســکټور او ولس پر ګډو هڅو هم ټينګار وکړ. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د جبل السراج ســيمنټو د دويمــې فابريکې له ټولو مسوولينو، انجنيرانو او کارکوونکو وغوښتل، چې دا پروژه په ټاکلي وخت او ښه کيفيت سره بشپړه کړي. د يادونې وړ ده چې د جبل السراج ســيمنټو دويمه توليــدي فابريکه به په ورځنــي ډول د پنځه زره ټنه ســيمنټو د توليد وړتيا ولري او زرګونو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه هم برابر کړي. د دې فابريکې د توليد په پيل سره به افغانستان د سيمنټو په برخه کې د خودکفا کېدو پر لور بل مهم ګام واخلي

## د کابل ښار په لومړۍ ناحيه کې د سوداګريز مارکيټ جوړولو طرحه د تاييد وړ وبلل شوه

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ لمريز کال د چنګاښ مياشتې په نهمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. دې غونډې ته د خصوصي سکټور له لورې د کابل ښار په لومړۍ ناحيه کې د ماليې وزارت اړوند ځمکه د سوداګريز مارکيټ جوړولو طرحې د ارزونې راپور وړاندې شو. له ارزونې وروسته، طرحه د تاييد وړ وبلل شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکټور د شاوخوا ۱۱۸ ميليون افغانيو په پانګونې سره شپږ پوړيز سوداګريز مارکيټ جوړ کړي، چې د اړتيا وړ اسانتياوې به ولري.

په دې غونډه کې د کابل ښار په پنځمه ناحيه او د بلخ ولايت په مرکز مزارشريف ښار کې د سوداګريزو مارکيټونو د جوړولو پر طرحو هم بحث وشو. دغه طرحې اړوندو وزارتونو ته راجع شوې، څو يې په اړه څېړنه ترسره او راپورونه يې د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

## د چاپيريال ساتنې عمومي ادارې د لابراتواري خدمتونو د مديريت طرحه د تاييد وړ وبلل شوه

د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ لمريز کال د چنګاښ مياشتې په ۱۵مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د چاپيريال ساتنې عمومي ادارې د لابراتواري خدمتونو د مديريت طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه، چې له بحث او هراړخيزې ارزونې وروسته د تاييد وړ وبلل شوه. د دې طرحې موخه د هوا، خاورې، اوبو او د غږ د کيفيت د معاينې لپاره د يو مرکزي، مجهز او معياري لابراتوار فعالول دي، چې له خدماتو به يې نه يوازې امارتي ادارې، بلکې خصوصي سکټور او نړيوال سازمانونه او پوهنتونونه هم ګټه اخيستلی شي.

همدارنګه په دې غونډه کې د معيار او کيفيت ادارې پر يوشمېر داخلي معيارونو او بهر ته د افغاني غاليو د صادراتو د زياتوالي پر موضوعاتو هم بحث وشو.

## د کابل ښار په لومړۍ ناحيه کې د دوو سوداګريزو مارکيټونو د جوړولو طرحې د تاييد وړ وبلل شوې

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ لمريز کال د سرطان مياشتې په ۱٦مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د کابل ښار په لومړۍ ناحيه کې د ماليې وزارت پر ځمکه د دوو سوداګريزو مارکيټونو د جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې، چې له بحث او هراړخيزې ارزونې وروسته د تاييد وړ وبلل شوې.

د يادو طرحو له مخې به د لومړۍ ناحيې په مندوي ساحه کې ظاهر شاهي مارکېټ د ۱٦۱ ميليون افغانيو په پانګونې سره په اتو پوړونو کې په معياري ډول جوړ شي، چې لسګونو هېوادوالو ته به دايمي کاري فرصتونه برابر کړي. همدارنګ، بل مارکېټ به هم په لومړۍ ناحيه کې د پنځو پوړونو په درلودلو سره په معياري ډول جوړ شي، چې يوشمېر هېوادوال به پکې پر کار بوخت شي.

## په ارزګان ولايت کې د بارورونکو موټرو لپاره معياري ترمينل جوړېږي

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسيون په وروستۍ ناسته کې د يوشمېر نورو پراختيايي پروژو ترڅنګ په ارزګان ولايت کې د بارورونکو موټرو لپاره د معياري ترمينل جوړولو پروژه هم منظوره شوه. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د مالوماتو له مخې، دغه ترمينل به د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ځمکني ترانسپورټ له منل شويو معيارونو سره سم په ۲۰۰ جريبه ځمکه جوړ شي او په يو وخت کې به د لسګونو



لويو بارورونکو موټرو د ځايېدو ظرفيت ولري. د دې پروژې توليد لګښت ٦۵ ميليون افغانۍ اټکل شوی، چې د افغانستان اسلامي امارت له بوديجې ورکول کېږي. په دې ترمينل کې به د موټر چلوونکو لپاره اړينې اسانتياوې برابرې شي. منظم پارکينګ، د اوبو رسولو شبکه، د برېښنا سيستم، مسجد، رستورانټ، ورکشاپ او ځينې نور اړين تاسيسات په پام کې نيول شوي دي. د ترمينل د جوړولو چارې به په ۱۲ مياشتو کې بشپړې شي، چې لسګونو هېوادوالو ته به د کار زمينه هم برابره کړي. د يادونې وړ ده چې د ارزګان ولايت ترڅنګ د هېواد په يو شمېر نورو ولايتونو کې هم د مسافرو او بارورونکو موټرو لپاره د معياري ترمينلونو د جوړولو چارې روانې دي. دغه ترمينلونه د ځمکني ترانسپورټ د معياري کېدو، د ترانسپورټي خدمتونو د تنظيم او د مسافرو او موټر چلوونکو لپاره د اسانتياوو برابرولو په برخه کې مهم ګامونه ګڼل کېږي.

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY

د اقتصـــادي او ټــولنيـــزو مسايلـــو په بـــــرخـه کـــې
د رياســـت الـــوزراء اقتصـــادي معاونيت پنځلــس ورځنۍ

ابادي
پنځلــس ورځنــۍ



# رهنمود سرمایه گذاری

بخش ۲

## فرصت‌های مناسب و بهتر برای سرمایه‌گذاری در بخش معادن و منابع طبیعی

افغانستان با داشـــتن موقعیت جغرافیایی استراتیژیک، منابع طبیعی فراوان و ظرفیت های بالقوه سرمایه گذاری، در ســـکتورهای مختلف فرصت های مناســـب و مطلوب برای سرمایه گذاری دارد. ازجمله این سکتورها یکی هم سکتور معادن و منابع طبیعی است. معادن و منابع طبیعی در رشد و توسعه اقتصادی کشورها نقش مهم و اثر گذار دارند. افغانستان از ذخایر معدنی فراوان و متنوع برخوردار است. این ذخایر دارای ظرفیت بالقوه بلند اقتصادی بوده و فرصت های گسترده و مناسب را برای سرمایه گذاری فراهم می‌ســازد کــه در صورت بهره بــرداری اصولی و پایدار، می‌تواند زمینه رشــد و توســعه اقتصادی را مهیا نماید. در اینجا بــه فرصت های عمده سرمایه‌گذاری در این سکتور عبارت اند از:

- سرمایه‌گذاری در بخش تفحص و اکتشاف به منظور شناسايي دقیق نوعیت و ظرفیت ذخایر معدنی؛
- سرمایه‌گذاری در اســتخراج معادن با در نظر داشت اصل بهره برداری پایدار؛
- سرمایه‌گــذاری در تصفیه، پروســس و صادرات مواد معدنی؛
- سرمایه‌گذاری در ترویج و توسعه تکنالوژی های جدید در سکتور معادن؛
- و سرمایه‌گذاری در باز ســازی و توســعه زیربناهای سکتور معادن.

تمامی سرمایه‌گــذاران می‌توانند به‌منظور سرمایه‌گذاری در ســکتورهای یادشــده، طرح‌های خــود را به کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی، تحت چتر معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء، ارائه نمایند.



# د افغانستان اقتصادي وده کې د سیمنټو صنعت رول

فضل ولي شيراني

### سريزه

د زېربنايي ودانيو د ودانيزو توکو يوه مهمه ماده سـيمنټ دي چې په ســاده ټکنالوژۍ سره په صنعتي ډول له خامو معدني موادو څخه توليدېږي. سيمنټ د پلونو، پلچکونو، صنعتـي، خدمـاتي، ملکـي او نظامي ودانيـو، د اوبو او برېښـنا د بندونو او د اوبو رسولو شبکو کې کارول کېږي. پــه يوه هېواد کې په مناســبه بيه د سـيمنټو موجوديت د دغو ســاختمانونو د جوړولو پــه بيه او په ټوله کې د هېواد پر اقتصادي ودې ژوره اغېزه لري. افغانســتان د سيمنټو کلنـۍ اړتيا له ۵- ۷ میلیون ټنو پورې ده، که چېرې دغه اندازه سـيمنټ له ګاونډيو هېوادونو څخه وارد کړو، نو په کال کې په ســلګونو ميليونو ډالـر ګاونډيو هېوادونو ته د داسـي جنس په بدل کې ورکوو چې پــه هېواد کې يې د توليـد له پاره اړين معـدني مواد موجود دي. د سـيمنټو ارزښــت او په افغانســتان کې د دې مهمي مادې د توليد لــه پاره د معدني موادو شــتون تــه په کتو د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې په دې برخه کې هېواد پر ځـان بسـيا کړي. په همـدې موخه يې پــه هېواد کې د سـيمنټو فابريکـو بيارغونې او د نويـو فابريکو جوړولو ته مخه کړې ده.

### اسلامي امارت او د سيمنټو د توليد په برخه کې ترسره شوې هڅې

د افغانستان اسلامي امارت له بيا ځل واکمنېدو سره، له هر څه وړاندې د افغانستان د اقتصاد د پياوړتيا لپاره خپلې هلې ځلـې چټکې کړې دي او په دې برخه کې له ټولو هغو لارو چـارو ګټــه پورته کـوي چې د افغانســتان اقتصـاد ورسره پيـاوړی کېدای شي، چې يوه پـه‌کې يې د هـېـواد د زېربناوو بيارغونې او جوړونې له پاره د اړتيا وړ سـيمنټ برابرول دي. اوســمهال په هېواد کــې په کمه اندازه د اړتيا وړ ســيمنټ توليدېږي او پاتې نور له ګاونډيو هېوادونو واردېږي.له دې

درکه افغانستان هر کال میلیونونه ډالر ګاونډیو هېوادونو ته ورکوي. اسلامي امارت غواړي په هېواد کې د ننه د سمنټو د تولید کچه لوړه او د خپلې اړتیا وړ سیمنټ په کور د ننه تولید او په ودانیزو چارو کې تر ډېره ګټه پورته کړي. په همدې موخه یې تر دې مهاله د هېواد د بغلان د غوري او پروان د جبل السراج د سیمنټو دوې سترې تولیدي فابریکې فعالې کړې دي. د کندهار د شوراندام او د هرات د سیمنټو فابریکو جوړولو چارې روانې دي. د غوري سیمنټو فابریکې تولید په ۲۴ ساعتونو کې ۶۰۰ ټنو ته رسېږي. د دې فابریکې مسوولینو ویلي، هڅه کوي دغه کچه په ۲۴ ساعتونو کې ۱۴۰۰ ټنو ته لوړه کړي. دې کچې ته په رسېدو به د سیمنټو له پلوه د هېواد ۱۴ سلنه اړتیا پوره شي. د دې ترڅنګ د پروان ولایت د جبل السراج د سیمنټو تولیدي فابریکه له ۲۰ کلن ځنډ وروسته بېرته فعاله شوه. دغه کارخونه چې د جګړو پرمهال ورانه شوې وه، د ۷۰ میلیونو افغانیو په لګښت بېرته ورغول شوه او پر فعالیت یې پیل وکړ. د سیمنټو دا تولیدي فابریکه اوسمهال په ۲۴ ساعتونو کې ۱۰۰ ټنه سیمنټ تولیدوي. په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د ۲۲۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره د قطر او یوه افغاني شرکت سره د جبل السراج د سیمنټو فابریکې قرارداد لاسلیک شو. د دې قرارداد له مخې به د جبل السراج د سمنټو فابریکه په کلني ډول د یو نیم میلیونه ټنه سمنټو د تولید ظرفیت پیدا کړي. اسلامي امارت پر دې بسنه نه ده کړې او د ۱۴۰۳ کال د عقرب په اتمه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د کانونو او پټرولیم وزارت او د ۷۷ ترکي شرکت ترمنځ د شاوخوا ۱۱ میلیارده افغانیو په پانګونې سره د جوزجان ولایت د یتیم تاق د سیمنټو تولیدي فابریکې د جوړولو ترون لاسلیک شو. د ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې په نهمه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په بغلان ولایت کې د غوري سیمنټو د دربیمې فابریکې د جوړېدو چارو د پیل پرانیسته وکړه. دغه راز د لوګر د التمور د سیمنټو د پروژې قرارداد له یو چینایي شرکت سره لاسلیک شو. یاد شرکت به شاوخوا ۱۴۵ میلیون ډالر پانګونه د لوګر د دغې سیمې د سیمنټو په اکتشاف او استخراج لګوي. اوس دادی د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۱۸مه نېټه د پروان ولایت په جبل السراج ولسوالۍ کې د جبل السراج سیمنټو دویمې لویې تولیدي فابریکې د جوړېدو چارو پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال دغه فابریکه د افغانستان د صنعتي ودې، اقتصادي خپلواکۍ او د کورني تولید د پیاوړتیا په برخه کې مهمه وبلله او ویې ویل، د صنعتي بنسټونو پیاوړتیا د بې‌کارۍ په کمولو او د صادراتو په زیاتوالي کې مهم رول لري. د جبل السراج سیمنټو دویمه تولیدي فابریکه به په ورځني ډول د پنځه زره ټنه سیمنټو د تولید وړتیا ولري او زرګونو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه هم برابر کړي. د دې فابریکې د تولید په پیل سره به افغانستان د سیمنټو په برخه کې د خودکفا کېدو پر لور بل مهم ګام واخلي. اسلامي امارت غواړي د یادو فابریکو پر مټ هېواد د سیمنټو په برخه کې خودکفایي ته ورسوي. سیمنټ چې څومره د ودانیزو چارو له پاره اړین دي، که چېرې په کافي اندازه تولید شي، نو د هېواد په اقتصادي وده کې هم رغنده رول لري.

## د سیمنټو صنعت اقتصادي ارزښت

اسلامي امارت د سیمنټو اړتیا او د هغو اقتصادي ارزښت ته په کتو هڅه پیل کړې چې هېواد په دې برخه کې ځان بسیاینې ته ورسوي. د سیمنټو د تولید په پیل سره به د هېواد د سمینټو اړتیا په کور د ننه پوره شي، صنعت به پراختیا پیدا کړي، له هېواد څخه به د اسعارو وتلو مخنیوی وشي، د ودانیزو چارو په چټکتیا او د سیمنټو په نرخ کې به ثبات رامنځته. د دې ترڅنګ به په دې برخه کې یو زیات شمیر هېوادوالو ته د کار زمینه برابره او اقتصادي وضعیت به یې ورسره ښه شي. د سیمنټو د تولیدي فابریکو په جوړېدو سره به که له یوه لوري د بې کارۍ کچه راکمیږي، بل خوا ته بیا د همدې خپلو تولید شویو سیمنټو څخه کولای شو خپلې د سیمنټو په برخه کې شته داخلي اړتیاوې هم پوره کړو. همدا چې د سیمنټو تولید پیل شي، نو بیا موږ دې ته اړتیا نه لرو چې له بهر څخه سیمنټ وارد او له امله یې اسعار بهر ته ووځي. په دې سره کولای شو په میلیونونو افغانۍ سپما وکړو. د سیمنټو د تولیدي فابریکو په قراردادونو کې یوه نقطه دا هم ده چې قراردادي شرکتونه به د سیمې خلکو



ته ټولنيز خدمتونه هم وړاندې کوي. پر دې سربيره د سيمنټو توليدي فابريکو په جوړېدو کې پانګونه راجذبېږي او دغه راز حکومتي عوايد له دې امله ورسره لوړېږي چې بهر ته د اسعارو د وتلو مخه نيسي. نو د سيمنټو صنعت چې څومره وده او پرمختګ وکړي، نو په هماغه اندازه به اقتصادي وده هم رامنځته شي.

## پايله

د سيمنټو صنعت د پرمختګ په صورت کې اقتصادي، صنعتي وده او د زيربناوو پراختيا رامنځته کېږي. د دې صنعت په غوړېدو سره هېوادوالو ته کاري فرصتونه رامنځته کېږي، له بهر څخه د سيمنټو واردات کم او صادرات زياتيږي. دغه راز د سيمنټو د توليدي فابريکو په جوړېدو سره له يوه لوري حکومتي عوايد زياتيږي، له بل لوري دغه صنعت د نورو صنعتونو د ودې له پاره زمينه برابروي. تر ټولو مهمه دا چې د سيمنټو صنعت له لارې کولای شو، چې خصوصي پانګونه وهڅو او په دې برخه کې پانګونه جذب کړو. نو که د چاپېريال ساتنې، عصري ټکنالوژۍ او اغېزناک مديريت اصول په پام کې ونيسو، د سيمنټو صنعت پر مټ کولای شو دوامدارې اقتصادي ودې او ځان‌بسياينې ته ورسېږو. اسلامي امارت د سيمنټو اړتيا او د هغو اقتصادي ارزښت ته په کتو هڅه پيل کړې چې هېواد په دې برخه کې ځان بسياينې ته ورسوي. همدا لامل دی چې د هېواد په بېلا بېلو ولايتونو کې د سيمنټو د توليد پخوانۍ فابريکې يې رغولې او د نويو فابريکو جوړېدو ته يې مخه کړې ده. د کندهار د شوراندام، د هرات، د بغلان د غوري درېيمه فابريکه او اوس د جبل السراج د سيمنټو دويمه توليدي فابريکې چارې يې پيل کړې دي. د دې فابريکو په فعاليدو سره به د هېواد د سيمنټو زياته برخه اړتيا پوره او د سيمنټو د وارداتو کچه به راټيټه شي. د وارداتي سيمنټو په کمېدو سره به موږ وکولای شو، بهر ته د اسعارو د وتلو مخه ونيسو او په ميليونونو افغانۍ به سپما کړو. دغه سپما شوی رقم به بيا د هېواد په نورو برخو کې ولګول شي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋٦٦,١٠ | ؋٦٦,١٥ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۲۹ | ؋۲۳۰ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۰,۳۵ | ؋۰,۳٦ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷٤,۷۰ | ؋۷۵,۰۰ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸۵ | ؋۰,۸۵ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۷۴۷ | ؋۷۴۸ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ؋٦٦,٤۰ | ؋٦٦,٦۰ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۷,۵۷ | ؋۱۷,۵۸ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۸,۰۰ | ؋۱۸,۰۱ |
| ۱ | چيني ين | ؋۹,۷٦ | ؋۹,۷۷ |

